مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د وري ۳۱مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۰مه | ۷۱۰مه ګڼه

# د بایډن د پرېکړې ستاینې او غندنې؛

## وکیلان: بهرنیو ځواکونو بشري ناورین جوړ کړ، ژر وتل یې د هېواد په ګټه دي





د سولې په تمه ولاړ حالت؛ لاملونه او حللاره
۲ مخ

د بې تحلیله کښتونو اقتصادي زیانونه
۲ مخ

بازګشت طالبان، سیل پناهجویان و ایجاد منطقه امن در داخل افغانستان
۳ مخ

## څېره

۴ مخ



### ندین ګورډایمر

ندین د ژوند څو لسیزې د بشریت او انسان لپاره د ژوند د جوړولو په برخه کې په مبارزه تېرې کړې او له همدې امله یې د نوبل جایزه هم تر لاسه کړه.

## کرنې وزارت: په هېواد کې د غوښې کلنی تولید له یونیم میلیون ټنو اوښتی



کرنې وزارت وایي، په ۱۳۹۹ کال کې د هېواد په کچه د ورې، وزې او غواوو یومیلیون او ۵۸۹ زره او ۲۶۹ مټریک ټنه غوښه تولید او مصرف شوې ده. د یاد وزارت د شمېرو له مخې، د تولید شویو غوښو له ډلې ۹۱۲ زره او ۳۸۷ مټریک ټنه یې د غوا غوښه او ۶۷۶ زره او ۸۸۲ مټریک ټنه نور یې د وزې او وریو غوښې دي. د دغه یاد وزارت د چارواکو په خبره، کابل د غوښې د تولیدوونکو او مصروفوونکو ولایتونو د نوملړ په سر کې ځای لري. د تېرکال په ترخه کې په پلازمېنه کې ۲۶۴ زره او ۳۶۵ مټریک ټنه غوښه تولید او مصرف شوې ده. دغه راز تر کابل وروسته، بلخ، ننګرهار، هرات او کندهار هم د غوښو عمده تولیدوونکي او مصرفوونکي ولایتونه دي.

د دغه وزارت چارواکي وایي چې اوسمهال د هېواد په کچه د غوښینو غواوو، وریو او وزو دوه زره او ۹۵۰ فارمونه شتون لري، چې له دې ډلې یو زرو ۶۲ یې د غوښینو غواوو، ۹۳۲ یې د وریو د پالنې فارمونه او ۹۵۶ یې د وزو د پالنې فارمونه دي.

## د بشري حقونو کمېسیون: تېره اونۍ د جګړو له کبله ۷۹ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي، چې په تېره یوه اونۍ کې ۷۹ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. یاد کمېسیون زیاته کړې چې له یادو ملکي وګړو څخه ۳۹ تنه وژل شوي او ۴۰ تنه نور ټپیان شوي دي.

د بشري حقونو د کمېسیون د معلوماتو په اساس، په وژل شوو او ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي. د دغه کمېسیون د معلوماتو په اساس ملکي وګړو ته دغه مرګ ژوبله په کندهار، ننګرهار، فراه او پروان ولایتونو کې د چسپکي ماین او سرک غاړې ماین چاودنو او وسله والو بریدونو کې اوښتې ده. کمېسیون زیاتوي، د دې مرګ ژوبلې لامل وسله وال طالبان او نا پېژانده کسان دي، خو طالبانو بیا تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو ځل بیا په هېواد کې د تاوتریخوالي پر کمېدو او سولې ټینګېدو باندې ټینګار کړی دی. بلخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازوالي یا «یوناما» روانه میاشت په خپل راپور کې وویل چې د روان ۲۰۲۱ز کال په لومړۍ ربعه کې په افغانستان کې د جګړو له امله ۵۷۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۲۱۰ تنه نور ټپیان شوي دي. د ملکي مرګ ژوبلې په تړاو دغه تازه شمېرې داسې مهال خپرېږي، چې په هېواد کې د سولې ټینګېدو او تاوتریخوالي کمېدو په اړه هیلې زیاتې شوي دي.

## سپینه ماڼۍ: د ځواکونو له ایستلو وروسته د افغانستان د راتلونکي ضمانت نه شو کولی



۵ مخ

## منابع: نماینده‌گان امریکا، قطر، سازمان ملل و ترکیه می‌کوشند اعتماد از بین رفته امریکا و طالبان دوباره بسازند



نماینده گان ترکیه، قطر، امریکا و سازمان ملل متحد برای شکستن بن بست مذاکرات صلح در دوحه از چند روز بدینسو با نماینده گان طالبان نشست هایی داشته اند.

منابع نزدیک به طالبان می‌گویند که طرف‌ها برای ایجاد اعتماد میان امریکا و طالبان می‌کوشند و در این راستا پیشرفت‌هایی نیز، به دست آمده‌اند. به باور این منابع، نماینده‌گان امریکا، قطر، سازمان ملل متحد و ترکیه می کوشند تا به طالبان اطمینان دهند که تا یازده‌هم ماه سپتامبر تمامی تعهدات توافق‌نامۀ دوحه عملی شوند، اما در مقابل از این گروه نیز می‌خواهند که مذاکرات را از سر بگیرند و برای برگزاری معنا دار نشست ترکیه سهم بگیرند.

فیض‌محمد ځلاند، استاد پوهنتون در این باره گفت: «طالبان می خواهند که نشست ترکیه یک نشست سرنوشت ساز و فیصله کننده باشد و به نظر طالبان برای رسیدن به این هدف، عملی کردن توافق نامه دوحه مهم است.»

در کنار امریکا، قطر، ترکیه و سازمان ملل متحد، پاکستان نیز این روزها برای وادار ساختن طالبان برای شرکت در نشست استانبول تلاش‌هایی را، آغاز کرده‌است.

با این همه، جیک سالیوان، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور امریکا می گوید که این کشور نمی‌تواند تضمین کند که پس از بیرون شدن نیروهای خارجی، در افغانستان چی چیزی اتفاق خواهد افتاد.




کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د سولې په ټپه ولاړ حالت؛ لاملونه او حللاره

له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په تړاو د امریکا د ولسمشر له پرېکړې وروسته ښکاري، چې د افغانستان د سولې پروسه په ټپه درېدلې ده. د استانبول غونډه چې ټاکل شوې وه د اپرېل په ۱۶مه وشي، د اپرېل ۲۴مې ته وځنډېده، خو اوس ښکاري چې په دې نېټه به هم غونډه ونه شي. له بله اړخه په دوحه کې هم د سولې هېڅ خبرې نشته او دواړه اړخونه یو له بل سره هېڅ خبرې نه کوي. د دې تر څنګ کوم بل لوری هم د سولې لپاره محسوسې هڅې نه کوي.

اوس پوښتنه دا ده چې دا حالت به تر کله دوام کوي او پایلې به یې څه وي؟

د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې پر اساس باید ټول بهرني ځواکونه د مې تر لومړۍ نېټې له افغانستان څخه وتلي وای، خو د امریکا نوي ولسمشر ویلي چې دا چاره به تر سپټمبر پورې بشپړه شي. طالبانو بیا دې ته په غبرګون کې ویلي چې له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو تر وتلو پورې به په هېڅ داسې غونډه کې ګډون ونه کړي، چې د افغانستان په اړه پکې پرېکړه کېږي. طالبان د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې ځنډ هم یوازینۍ ستونزه نه ګڼي، بلکې وایي چې د دې تر څنګ د امریکا لخوا ورسره کړې دوې نورې ژمنې هم نه دي عملي شوې، چې پکې د بندیانو خلاصون او له تور لېسته څخه د طالب مشرانو ایستل شامل دي. دې چارې د سولې خبرې ځنډولې او اوس داسې ښکاري چې که امریکا تر سپټمبر پورې خپل ټول ځواکونه وباسي، نو له هغې وروسته به طالبان د سولې په تړاو برخلیک ټاکونکو خبرو ته را ګرځي.

اوس له دواړو اړخونو د جګړې خبرې کېږي او داسې ښودل کېږي، چې ګواکې تر سپټمبر پورې به جګړې وشي. له بده مرغه د دې جګړې زیان به بیا هم افغانانو ته وي او دواړو اړخونو ته به افغانان ووژل شي. دا جګړه یوازې افغاني اړخونو او ولس ته زیان اړوي او هېڅوک به پکې قاطع بریا ونه لري، ځکه چې طالبان ماتېږي نه او د حکومت تر شا به بیا هم امریکا او ناټو ولاړه وي او پرې به یې نه ږدي چې طالبان یې ونړوي. له همدې امله جګړه به وي، خو یو لوری به هم پکې بریا نه خپلوي، خو مرګ ژوبله او زیان به یې ټول افغاني وي.

دا په ټپه ولاړ حالت باید ختم شي او د سولې خبرې باید بېرته پیل شي. د دې لپاره باید دواړه اړخونه انعطاف وښیي. که د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې ځنډ راغلی، خو دوې نورې ژمنې باید عملي شي. د طالبانو بندیان باید د یو منظم پلان له مخې په تدریج سره خوشې شي. ورسره حکومت باید په رسمي ډول له ملګرو ملتونو وغواړي چې طالب مشران له تور لېست څخه وباسي. د دې په بدل کې باید طالبان اوربند یا اور کم اعلان کړي. په دې سره به د سولې په برخه کې اساسي پرمختګ شوی وي او دواړو اړخونو به د برخلیک ټاکونکې پرېکړې او هوکړې لپاره لاره هواره کړې وي. له دې پرته به نه یوازې د سولې په برخه کې کوم پرمختګ ونه شي؛ بلکې لا زیاتې ستونزې او خنډونه به پیدا شي او جګړې به هم پراخه مرګ ژوبله او زیان واړوي.

# د بې تحلیله کښتونو اقتصادي زیانونه

امین ستانکزی

زراعت د یوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د اهمیت وړ ټکی دی، که ووایو چې د اقتصادي پرمختګونو څرکونه هم له زراعتي اقتصاد څخه پېلیږي، نو ډېره مبالغه به مو نه وي کړې .

زارعت د ګټې وټې له نظره یوه دایمي ګټه او سرچینه بلل کیږي، چې له هر ډول حالاتو او چاپېریالي تغییراتو سره بیاهم پر خپل ځای پاتې کیدای شي او ځان د مارکېټ له تقاضا سره سم جوړولی شي.

افغانستان د یوه زراعتي هېواد په توګه پېژندل شوی دی او ټول خلک یې د نوم له اورېدو سره د زراعتي هېواد په توګه پېژني.

د امریکا د نړیوالو مرستو اداري (USAID) د رسمي ارقامو له مخې، د افغانستان اتیا سلنه وګړي پر کرنه او د کرنې اړوند چارو کې بوخت دي او یا هم له دې لارې خپل ورځنی ژوند پر مخ وړي.

همدارنګه د اسیا پرمختیایي بانک د سروې له مخې، د افغانستان د نفوس له اتیا تر پنځه اتیا سلنه یې په زراعتي چارو کې بوخت دي او په مستقیم او غیر مستقیم ډول له زراعت څخه عواید لري.

د مرکزي احصایې د ۱۳۸۷ کال د رسمي ارقامو له مخې، د افغانستان په اقتصادي رشد کې درې برخې خدمات، صنعت او زراعت تر ټولو مخکښې او د نظر وړ دي.

دوی همدا راز وایي، د کارموندنې له نظره ۷۸ سلنه خلک پر زراعت ، ۱۶ سلنه خلک په خدماتي ادارو کې او یوازې ٦ سلنه خلک په صنعت کې پر کار بوخت دي (البته دا د ۱۳۸۷ کال رسمي ارقام دي. طبیعي خبره ده چې اوس به پکې بدلون راغلی وي، خو بیا هم زراعت د کارموندنې لویه کچه جوړوي).

د همدې اداري د ۱۳۹۰ کال راپور دا هم ښیي چې دا شمېره ٦۸ سلنې ته را ښکته شوې او دا باید ومنو چې د زراعتي محصولاتو د بازار نه لرل او ډېر نور عوامل د دې باعث ګرځي چې زراعتي فعالیتونه متضرر کړي .

د احصایې ملي اداري د خبر پر اساس، له ۱۳۹۵ کال راهیسې په زراعتي رشد کې لږ څه پرمختګ شوی، خو دا حالت دومره د پام وړ نه دی او یوازې له نزولي حالت څخه صعودي حالت ته اوړېدلی.

خو له دې ټولو خبرو ورهاخوا تاسو ته بهتره معلومه ده چې د افغانستان د صادراتو اتیا سلنه زراعتي محصولات برابروي، چې همدا خپله د زیات پام وړ ټکی دی، چې همدې ټکي ته په کتو د نړیوال بانک د وړاندوینې پر اساس، که چیرته افغانستان په راتلونکي لسیزه کې لږ تر لږه زراعت ۵ سلنه رشد وکړي، نو لري نه ده چې افغانان به د خوراکي توکو د پر ځان بساینې سربېره، د کلیوالي ژوند د زیات تغییر شاهدان هم و اوسي.

### ولې په افغانستان کې زراعتي فعالیتونه کم شوي؟

موږ ټول ګورو او حس کوو چې د افغانستان زراعتي اقتصاد له نزولي حالت سره مخامخ دی، ځینې عوامل به یې دلته په ګوته کړو:

### زراعتي محصولاتو ته د مارکېټ نشتون

یو عمده او ستر دلیل هم همدا دی چې زراعتي اقتصاد له نزولي حالت سره مخامخوي، هغه د مناسب مارکېټ نشتون دی چې ډېری محصولات د بازار د نشتون او هم د کمزوري بازار د لرلو له امله پاتې کیږي او د بزګر زړه له دې محصول څخه توریږي، بیا یې د کرلو فکر نه کوي او یا یې هم زراعتي بدیل په صنعتي او یا خدماتي هغې باندې بدلوي.

د دې برخې یو بل ستر مشکل دا هم دی چې بزګر بې تحلیله کښت کوي او د مارکېټ د تقاضا له کتلو پرته په میخانیکي ډول کښتونه کوي، چې دا چاره شته مارکېټ هم خرابوي او محصولات بې ارزښته کیږي .

موږ حتی د خپلو محصولاتو لپاره په خپل هېواد کې هم مارکېټ نه شو چمتو کولی، بیروني او نړیوال مارکېټ خو لرې خبره ده. تاسې به ګورئ چې وطني مڼه د خرابې بسته بندۍ او یا هم د سړو خونو د نشتون له امله بېکاره او پر ځای یې ایرانۍ مڼې په لوړ قیمت ټول مارکېټ نیولی او دا چاره کلونه کلونه کېږي چې روانه ده، نه هم بزګر او نه هم دولت د دې ستونزې د حل په موخه لاس پکارېږي.

بزګر خپل محصولات حتی د دې وړ هم نه کړل چې په هېواد کې دننه ځانته یو ښه او مطمین مارکېټ ولري او دولت د بیرونیو محصولاتو د مخنیوي لپاره د لازمو لارو چارو د خپلولو او خپل محصول ته د لومړیتوب ورکولو فکر او زحمت نه دی ویستلی .

یوه ساده بېلګه چې همدې څو ورځو کې یې موږ په مارکېټ کې ګورو، هغه د تازه سبزیو ده چې مارکېټ ته د بې حده او بې تحلیله او د مارکېټ له مطالعې پرته وړاندې کیږي، هغه هم ټنډۍ دي چې د بزګرانو د خولې خبره ده چې تېر کال په ننګرهار کې د سبزیو له درکه یو ښه عاید و، نو همدا وجه ده چې سږ کال ټولو بزګرانو په یوه خوله همدا سبزي کرلې ده چې د مارکېټ له مطالعې پرته یوازې د مخکینۍ مخینې له قیاسه یې کښت بیخي له حده زیات شوی دی، چې اوس په بازار کې د خرڅلا سړه تقاضا لري؛ ځکه چې عرضه یې بې تحلیله او بې ترتیبه او له اندول پرته شوې ده. نو بزګر مجبوره دی چې په ډېر ناخیزه قیمت یې خرڅه کړي، ځکه چې په کور د ننه د سړو خونو نشتون او په سیمه ییزه کچه یې مارکېټ نه لرل یې ستر سر خوږی دی.

### زراعتي ځمکې پر رهایشي باندې بدلیږي

د افغانستان ډېری زراعتي سیمې له ښارونو لرې پرتو سیمو پورې تړلې دي، هغه چې له لویو ښارونو سره نږدې دي هغه د رهایشي او صنعتي کېدو تر سیوري لاندې خپل ماهیت بدل کړي او زراعتي استفاده ترې نه کیږي، چې دا یو ستر او له ننګوونکو مشکلاتو څخه دي، ځکه هغه ځمکې چې د اوبو لاندې دي مخکې زراعتي وې او اوس پر رهایشي ساحو باندې بدلې شوې دي. یو خو هغه پانګونه چې د اوبو د تنظیم په برخه کې شوې، بې ګټې کیږي او بل د ښارونو په ځنډو او منځ کې شنه سیمه هم له منځه ځي، چې دا خپله د چاپیریال پر وړاندې بل ستر خطر دی.

اوسنی دولت د دې لپاره هیڅ کوم پلان نه لري البته په قانوني چوکاټ کې ورته داسې لایحه شته، چې په زراعتي سیمو کې د رهایشي ځایونو له جوړېدو څخه منع کوي، خو تطبیق یې نشته. د دې د حل لپاره باید په هغو ساحو کې د اوسېدنې ښارګوټي جوړ شي، چې زراعتي نه وي او له ښاره لرې په دښتو کې پرتې وي .

یوه ساده او ډېره لیدل کېدونکې بېلګه به یې دلته ذکر کړو :

د ننګرهار ولایت درې سترې زراعتي اقتصادي حوزې: سره رود، بهسود او کامه همدا اوس له ستر ګواښ سره مخامخ دي. د سره رود تر اویا سلنه زراعتي ځمکې د ښاري پراختیا له امله د استوګنې پر کورونو بدلې شوې، چې ورسره یې د ښار شنه ساحه هم خورا زیانمنه کړې ده او دا چاره لا هم په تېزۍ سره روانه ده.

همدارنګه د بهسودو ولسوالۍ یې بل ښه مثال دی چې دا هم د رهایشي او صنعتي کېدو له امله یې بڼه بدله شوې او د اوبو لاندې ځمکې یې د استوګنې پر کورونو بدلې شوې.

بله ستره حوزه چې د زراعتي اقتصاد ښه او مناسب بازار لري، هغه د کامې ولسوالي ده، که څه هم کامه یوځه تر صنعتي او رهایشي سیورې لاندې راغلې ده، خو په اوس وخت کې د زراعتي فعالیتونو لپاره یوه ښه آپشن کېدای شي.

### کلیوالي مهاجرتونه

مخکې مو ذکر کړل چې د افغانستان زراعت په لرې پرتو سیمو کې زیات دی، نو لرې پرتو سیمو کې جنګ هم زیات دی چې دا خپله د زراعتي فعالیتونو د ټکني کېدو سبب ګرځي .

په هغو سیمو کې چې جنګونه دي، بزګر په سمه توګه نه شي کولی چې کار وکړي، ځېنې یې مجبوره کیږي چې خپل کلی کور او ځمکه همداسې بې سرنوشته پرېږدي او کډه بار کړي چې دا هم د زراعتي فعالیتونو د ټکنې کېدو یو ستر لامل دی .

### په زراعتي اقتصاد کې د پانګونې کم رنګه ونډه

بل مهم لامل یې دا هم دی چې په زراعتي برخه کې د نوې پانګې اچونې ونډه هم بیخي پیکه او حتی د محاسبې وړ نه ده، چې دا خپله د زراعتي فعالیتونو د کموالي سبب ګرځي .

بزګران له نویو فرصتونو څخه بې برخې او مارکېټ ته له سالم لاسرسي څخه محرومیږي.

د یوې سروې له مخې، د افغانستان د پانګونې په برخه کې زیاته پانګونه د خدماتو په سکټور کې تر سره شوې، چې بیا ورپسې په صنعتي، تولیداتي او بیا په اخره کې په زراعتي سکټور کې په بیخي کمې سلنې سره پانګونه شوې .

ولې هغه پانګونه چې په زراعتي برخه کې تر سره شوې ده، ډېر د پام وړ او له لاسته راوړنو ډکه ده چې دا خپله هغه پانګه‌وال دې ته هڅوي څو په زراعتي برخه کې نوره پانګونه وکړي او له دې لارې د هېواد اقتصاد په رغولو کې رغنده ونډه ولري .

غوره او تر ټولو پوهېدونکي مثالونه یې د هېواد زعفران او جنغوزي دي، چې د خوښۍ ځای دی چې دا زراعتي محصولات مو د صادراتو په لړ کې نړیوال مقام لري .

په اروپا کې مېشت د ذایقې او کیفیت نړیوال انسټېټیوټ له لوري د هېواد زعفران د نړۍ په کچه سر په سر دا پنځم کال دی چې لومړی مقام ګټي چې دا ستره خبره ده .

د ننګرهار ولایت یو څو بېلګې یې دلته ذکر کوو:

ختیځ لبنیات، په مالدارۍ برخه کې د براند حیثیت لري چې د مسوولینو له قوله یې چارې ښې او په سم لوري روانې دي، یانې له تاوان څخه بچ او د نویو فرصتونو د ایجاد لپاره لا هڅې کوي چې دا خپله د یوې سوداګریزې هڅې یو ښه ټکی دی .

جاوید افغان د زراعتي افزارو فابریکه د هېواد د اړتیا د پوره کولو سربېره، ګاونډي هېواد تاجکستان ته هم زراعتي افزار صادر کړي دي. په اقتصادي پرمختګونو کې صادرات ځانګړی مقام لري چې خوشبختانه دا زراعتي پانګونه د دې برخې لپاره یوه ښه پیل دی.

### حیواني او زراعتي آفتونه

یو بل لامل هغه د زراعتي او حیواني آفتونو شپې دي چې متاسفانه سر په سر وچکالۍ دې برخه کې ډېرې ستونزې راپیدا کړې دي.

بزګران د مسلکیتوب له هنره بې برخې دي، غیر اصلاح شوي تخمونه مروج دي، د زراعتي افتونو پر وړاندې د نه چمتووالي له امله هر کال بزګران ستر زیانونه ګوري او همدا خبره بیا راتلونکي او پسې راتلونکي کلونه بیا هم تکرارېږي او د حل لپاره یې نه هم بزګر او نه هم دولت کار کوي، چې دا چاره خپله د زراعتي اقتصاد د رکود او د زراعت د کم رنګه کېدو سبب ګرځي .

## تحلیل رسانه‌ها؛

# بازگشت طالبان، سیل پناهجویان و ایجاد منطقه امن در داخل افغانستان

اعلام خروج کامل نیروهای آمریکایی و ناتو از افغانستان تا ۱۱ سپتامبر، موجی از نگرانی‌ها را نه تنها در میان افغانها، بلکه در رسانه‌های غربی نیز به دنبال داشته است.

برخی تحلیلگران به پیش‌بینی سناریوهای نگران‌کننده به سقوط احتمالی دولت مرکزی و «فاجعه انسانی» پرداخته‌اند که ممکن است پس از خروج نیروهای ائتلاف بین المللی رخ بدهد.

گروه مطالعات افغانستان در کنگره آمریکا به ریاست جنرال بازنشسته جوزف دانفورد، که زمانی رئیس ستاد مشترک ارتش بود، و کلی آیوت سناتور سابق جمهوری‌خواه، توصیه کردند که نباید اداره بایدن «پیروزی را دو دستی تقدیم طالبان کند.»

اما، جو بایدن برخلاف توصیه‌های این گروه مطالعاتی، خروج یک‌جانبه و بدون قید و شرط نیروهای آمریکایی را تا پنج ماه آینده از افغانستان اعلام کرد.

«»»آمریکا به نصیحت گورباچف عمل کرد «»»

استیو کول، رئیس دانشکده روزنامه‌نگاری دانشگاه کلمبیا و نویسنده کتاب «جنگ اشباح» در مطلبی در نشریه نیویارک تایمز نوشته که در اوایل سال ۲۰۱۰ میخائیل گورباچف، رهبر پیشین شوروی که سه دهه پیش نیروهای شوروی را از افغانستان خارج کرد، به باراک اوباما، رئیس جمهور وقت آمریکا توصیه کرد که در پی «مصالحه ملی» در افغانستان باشد، در حالی که همزمان «یک راه سیاسی و خروج نیروها» از این کشور را مدیریت می کند.

آمریکا گفتگوهای پنهان با طالبان را از همان سال‌ها آغاز کرده بود، که به گفته نویسنده در واقع عمل کردن به توصیه گورباچف بود.

به عقیده او، تعجب آور نیست که «ایالات متحده آشکارا شکست را در طولانی‌ترین جنگ تاریخ خود پذیرفته است. حداقل برای یک دهه آشکار شده است که جنگ افغانستان از نظر نظامی غیرقابل پیروزی بود.»

او می گوید، ارتش پاکستان و سازمان استخبارات نظامی این کشور همان کاری را در برابر آمریکا و ناتو در افغانستان کرد که قبلاً با حمایت سیا علیه شوروی کرده بود.

بازگشت طالبان و القاعده

مارک فیشر در تحلیل مفصلی در روزنامه نیویارک تایمز نوشته که بسیاری در افغانستان نگرانند که آمریکا در گفتگوهای صلح دولت را «به‌شدت تضعیف» کرده است.

به گفته او، در حالی که آخرین سربازان آمریکایی آماده عزیمت می‌شوند، طالبان بدون تعهد به گفتگوهای صلح، برای پیروزی کامل تلاش خواهند کرد.

او می‌نویسد، در دهه اول که آمریکا به افغانستان حمله کرد، خود را وارد ماموریتی کرد که در خودش تضاد داشت؛ درصدد تحمیل نظامی از بالا به پایین برآمد، در حالی‌که طالبان خود را در سطوح پایین در میان پشتون‌های روستایی بازسازی می کرد.

در واقع، ایالات متحده می‌خواست میان جناح‌های افغان مصالحه برقرار کند در حالی که علیه مصالحه با مهمترین‌شان-طالبان قرار گرفته بود.

او می‌گوید، شورش طالبان مانع عمده گسترش حکومت‌داری محلی در افغانستان شد.

سیمون جنکینز در روزنامه گاردین لندن نوشته که ارتش بریتانیا با ۳۴۰۰ سرباز در سال ۲۰۰۵ به ولایت هلمند در جنوب افغانستان رفت، و هدف خود را «بدست آوردن دل و ذهن» افغانها قرار داده بود، او از جان رید، وزیر دفاع وقت بریتانیا نقل می‌کند که امیدوار بود این کار «بدون شلیک حتی یک مرمی» بدست آید.

اما در عمل عکس این روند رخ داد. به گفته او، اولین انتخابات ریاست جمهوری در سال ۲۰۰۴ و انتخابات پارلمانی در سال ۲۰۰۵ در هلمند انجام شد، در حالی که پنج سال بعد برگزاری دومین انتخابات در بیشتر ولسوالی‌های هلمند به خاطر گسترش ناامنی با مشکل مواجه شده بود.

به گفته او: «همه چیز در هلمند به سمت نادرست رفت.» در سال‌های بعد ۱۰ هزار تفنگدار آمریکایی وارد درگیری با شورشیان شدند، ۴۵۴ سرباز انگلیسی نیز کشته شدند.

بروس هافمن، استاد دانشگاه جورج تاون، که به دولت آمریکا در مورد سیاست‌های ضد تروریزم مشورت می‌دهد، به روزنامه وال ستریت ژورنال گفته که در صورت استقرار مجدد «گروه‌های تروریستی» در افغانستان، کشورهای جنوب آسیا، به ویژه هند، احتمالاً بیشترین آسیب را می‌بینند.

او می گوید، بعید است که القاعده بخواهد از افغانستان به عنوان پایگاه برای حمله به ایالات متحده استفاده کند.

به گفته هافمن: «اما این کاملاً قابل قبول است که القاعده، متحد طالبان، از افغانستان به عنوان پایگاهی برای بی‌ثبات کردن آسیای جنوبی استفاده کند. و این در نهایت به یک موضوع بزرگ استراتژیک برای ایالات متحده مبدل خواهد شد.»

ایجاد «منطقه امن» در شمال؛ مدل کردستان عراق

دیو زکیم، تحلیلگر ارشد مرکز مطالعات استراتژیک و بین المللی در واشنگتن و معاون پیشین وزارت دفاع آمریکا در نشریه دهیل ( The Hill) نوشته که خروج کامل نیروهای بین المللی از افغانستان ممکن است به «فاجعه انسانی»بینجامد.

او می‌نویسد: «نتیجه چیزی کمتر از یک فاجعه انسانی نخواهد بود. زنان می‌بینند که دستاوردهایی که از سال ۲۰۰۲ به دست آورده اند، کاملاً برگشت‌پذیر خواهد بود. بار دیگر، کسانی که از حمایت طالبان خودداری کرده اند، با انتقام‌گیری مواجه خواهند شد و دولت (امارت) تندرو سنی دوباره مانند پیش از سال ۲۰۰۱ هزاره‌های شیعه را مورد آزار و اذیت قرار خواهد داد.»

این تحلیلگر پیش‌بینی کرده که نتیجه، سیل پناهجویانی است که افغانستان را ترک می‌کنند. «پاکستان بعید است که مانند دهه ۱۹۹۰ دوباره آنها را بپذیرد و نه کشورهای حوزه خلیج فارس و نه اروپا» حاضر به پذیرش پناهجویان احتمالی هستند.

این تحلیلگر پیشنهاد کرده که یک منطقه حفاظت شده برای پناهجویان در شمال افغانستان ایجاد شود.

او می گوید، آمریکا و ناتو می‌توانند به کمک هوایی و تجهیزات نظامی به نیروهای ائتلاف ضد طالبان کمک کنند تا «یک منطقه خودمختار امن مانند مدل کردستان عراق در شمال افغانستان ایجاد شود.»

ناخشنودی نظامیان آمریکایی

برخی از نمایندگان کنگره و جنرال‌های آمریکایی که در افغانستان خدمت کرده‌اند به رئیس جمهوری این کشور توصیه کردند که خروج نیروهای این کشور را مشروط به نتیجه دادن گفتگوهای صلح کند.

مارک هرتلینگ، جنرال بازنشسته در سایت سی‌ان‌ان نوشته که مطمئن هستم که این تصمیم آسانی برای بایدن و تیمش نبوده است، اما به نظر من «زمان آن فرا رسیده است».

او گفت که بسیاری از آنهایی که یونیفورم نظامی پوشیده اند از این تصمیم رئیس جمهور ناراحت خواهند شد و «احساس خیانت» می کنند، زیرا به آنها اجازه داده نشده کار را تمام کنند. به گفته او، نظامیانی که در افغانستان خدمت کرده اند «از خود می‌پرسند: این همه برای چی بود؟» او افزود که «کسان دیگری که در افغانستان خدمت کرده اند خواهند گفت: زمان آن فرا رسیده است! آنها می‌دانند که ماموریت اصلی شکست القاعده سالها پیش انجام شده است و ما نمی‌توانیم دولت ناکارآمد افغانستان را درست کنیم. آنها درک می کنند که بیشتر مأموریت ما در چند سال گذشته، بی‌هدف و بدون چشم انداز عینی و استراتژیک بوده است.»

# د بایډن د پرېکړې ستاینې او غندنې؛

## وکیلان: بهرنیو ځواکونو بشري ناورین جوړ کړ، ژر وتل یې د هېواد په گټه دي



د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له افغانستانه د سرتېرو د ایستلو په پرېکړه کې د ځنډ راوستلو له امله پر بایډن نیوکه کړې ده او د هغه تازه پرېکړه یې غندلې ده. بلخوا د ولسي جرگې ډېرو غړو د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال د بایډن دا پرېکړه ستایلې، چې له افغانستانه به خپل ځواکونه وباسي. د ولسي جرگې غړو ټینگار کړی چې د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو په وتلو سره به په افغانستان کې روان ناورین پای ته ورسېږي.

د امریکا ولسمشر جو بایډن اعلان کړی چې د سپټمبر تر یوولسمې نېټې به خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي. هغه ویلي چې د سرتېرو د ایستلو لپاره هېڅ شرط نه لري. د دوحې د هوکړې پر بنسټ ټاکل شوې وه چې د ناټو او امریکا ځواکونه د مې تر لومړۍ نېټې پورې له افغانستان ووځي، خو بایډن دغه موده وغځوله او اعلان یې وکړ چې د سپټمبر تر یوولسمې به یې سرتېري له افغانستانه ووځي. په همدې تړاو د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ پر بایډن نیوکه کړې ده. ډونالډ ټرمپ په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي چې د سرتېرو د حضور دوام ته هېڅ راز اړتیا او پلمه نشته ده، نو له همدې امله بایډن ته پکار ده چې ټول سرتېري وباسي. ټرمپ ټینگار کړی چې لا هم د مې تر لومړۍ د سرتېرو ایستل ممکن کار دی. د ټرمپ په خبره: «موږ د سرتېرو شمېر رانښکته کړ. د سرتېرو د حضور دوام ته هېڅ راز پلمه نشته ده. ټول مالي او نور مسایل مو سنجولي دي، اوس هم د سرتېرو ایستل ممکن دي.»

له دې سره جوخت د ولسي جرگې ډېرو غړو هم د تېرې ورځې غونډې په امتیازي ساعت کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مسئله خبرې وکړې. د ولسي جرگې غړو نیوکه وکړه چې امریکایي ځواکونو په تېرو شلو کلونو کې افغانستان ته یوازې بدمرغي راوړې او دلته یې بشري ناورین رامنځ ته کړی دی. د وکیلانو په خبره، امریکا په افغانستان کې قومي او سمتي تعصبونه رامنځ ته کړل او د دې سبب شوه چې د افغانانو ترمنځ واټن ډېر شي. په ولسي جرگه کې د کندوز د خلکو استازي په خپلو خبرو کې وویل: «امریکایي ځواکونو ته پکار ده چې ژر تر ژره له افغانستانه ووځي. دوی پخپله راغلي او پخپله به ځي. څومره ژر چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، دومره د افغانانو په گټه ده.»

د ولسي جرگې غړي همدا راز وايي چې د بهرنیو ځواکونو د حضور دوام دلته د جگړو د دوام سبب کېدلی شي او باید ژر تر ژره له دې ځایه ووځي. وکیلانو د دې تر څنگ پر طالبانو هم غږ کړی دی چې له جگړو لاس واخلي او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته ادامه ورکړي. د وکیلانو په خبره، که د طالبانو پلمه بهرني ځواکونه وي، نو دوی خو د خپلو وتلو نېټه معلومه کړه، نو اوس طالبانو ته پکار ده چې له افغانانو سره له جگړې لاس واخلي. په ولسي جرگه کې د هرات د خلکو یوه استازې په خپلو خبرو کې وویل، که طالبان له جگړو لاس په سر نه شي، نو ښایي د ولس له قهر سره مخ شي. د نوموړې په خبره: «طالبان دې نور د افغانانو پر وړاندې جگړه نه کوي، امریکایي ځواکونه وځي، نو ځکه اوس افغانانو ته پکار ده چې په خپلو کې سره کېني. که طالبان سوله ونه کړي او جگړو ته ادامه ورکړي، ارو مرو د ولس له قهر سره مخ کېږي.»

له دې سره جوخت په امریکا کې هم د بهرنیو ځواکونو د وتلو پرېکړې غبرگونونه پارولي دي. تازه د امریکا د ملي امنیت سلاکار جک سلیوان هم ویلي چې دوی له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي او د سرتېرو تر وتلو وروسته وضعیت باید افغانان پخپله مدیریت کړي. د هغه په خبره، دوی په دومره کلونو کې له افغانانو سره مرسته کړې ده، اوس به هم خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي؛ خو د راتلونکو گواښونو پر وړاندې مبارزه هم د افغانانو کار دی.

# د کرونا گواښوونکې څپه؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۳۵ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۲ میلیونه او ۱۱۹ زره او ۳۵۵ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۳۵ زره او ۳۳۵ کسان مړه شوي او نږدې ۱۲۱ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۲میلیونه او ۴۰۶ زره او ۷۵۳ ته رسېدلي او ۵۸۱ زره او ۶۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۵ میلیونه او ۶۱ زره او ۹۱۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۳ میلیونه او ۹۴۳زره او ۷۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۲۸۹ زره او ۵۲۶ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۷۱۰ زره او ۶۹۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال، د هند د عامې روغتیا وزارت ویلي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې یې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس ۲۷۳۸۱۰ تازه پېښې ثبت کړې دي.

د پلازمېنې نوي ډیلي اعلی وزیر ویلي، چې له هرو دریو کسانو څخه چې د کرونا د ویروس معاینات یې کړي، د یو تن نتیجه یې مثبته ده. اعلی وزیر اروېند کجریوال په یوې خبرې غونډې کې ویلي چې لویه اندېښنه دا ده چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د مثبتو پېښو فیصدي د ۲۴ نه ۳۰ فیصدو ته لوړه شوې ده. هغه زیاته کړې: «قضیې په چټکۍ سره مخ په زیاتېدو دي او په روغتونونو کې بسترونه ډک شوي دي.»

په داسې حال کې چې په هند کې د کرونا د ویروس د نویو پېښو د ډېروالي خبرونه ورکړل شوي، په بل اسیایي هېواد ایران کې په یوه ورځ دومره ډېر کسان د کرونا ویروس وژلي چې په دغه هېواد کې ساری نه لري.


د ایران د عامې روغتیا وزارت اعلان کړی چې په دغه هېواد کې په یوه ورځ د کرونا ویروس ۴۰۵ کسان مړه کړي او ۲۱ زره نور پرې اخته شوي. د ایران د روغتیا وزارت همدارنگه ویلي چې په روغتونونو کې د ناروغانو لپاره ځای نشته.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




په افغانستان کې د باليووډ اغېز ډېر پراخ دی. ځينې خلک له ما سره زما په ژبه د باليووډ له وجې خبرې کوي. کله چې په (۲۰۱۵. ز)کال کې زه او عزيزخان په هرات کې وو، يوې لس کلنې نجلۍ چې په اردو ژبه يې زموږ خبرې واورېدلې، راغله او له موږ سره يې په اردو ژبه خبرې وکړې. ما ترې وپوښتل: دا دې په کوم ځای کې زده کړې ده. هغې راته ووېل چې له ټلويزيون څخه.

تاسې سم وايې، موږ نفوذ لرو، موږ ته خدای دا جغرافيه راکړې ده، پاکستان د افغانانو لپاره ستراتېژيک عمق لري، ان د هغوی لپاره هم، چې موږ يې نه خوښېږو.

زموږ هېواد ته افغانان راځي او کار مومي. کراچۍ يو لوی پښتون مېشتی ښار دی او په تېرو څو کلونو که د افغان اوسېدونکو دويم لوی ښار جوړ شوی دی، چې نژدې دوه نيم ميليونه پښتانه پکې اوسېږي. دوی تګ او راتګ کوي. هغوی چې سهار د پاکستان ضد خبرې کوي، ماښام پېښور ته د غاښونو د تداوۍ يا د کاروبار او کورنۍ د ليدو لپاره راځي. له دوی څخه ځينو موږ ته ويلي، چې دوی يو ځانګړی موټر لري، ټانکۍ يې ډکه ده او يوازې يې د دې لپاره چالانوي چې بېټرۍ يې خرابه نشي. دوی وايي که کومه خرابي پېښه شي، موږ به مخامخ پېښور ته ځانونه ورسوو. په شمال کې روغتونونه شته چې افغانان وړيا تداوي کوي. خو هغوی چې توان يې لري د تداوۍ لپاره پاکستان ته راځي، ځکه هلته په روغتونونو ډېر باوري دي.

کله چې اسلم بيګ ويل، پاکستان ستراتيژيک عمق ته اړتيا لري، د هغه هدف پوځي وو. لکه موږ چې ايران ته د آرامې سيمې په سترګه ګورو، د هند د حملې په وخت کې به موږ خپل هوايي ځواک ايران ته ولېږدوو، لکه عراق چې په (۱۹۹۱. ز) کال کې دغه کار وکړ. خلکو فکر کولو چې عراق غواړي افغانستان ونيسي. تاسې وګورئ ځواکمنو پوځونو چې دا کار کړی، له څه برخليک سره مخ شوي، پاکستان به احمق وي چې ان د هغې په هکله فکر وکړي.

موږ په خلاص زړه اوس ويلي چې له هند سره څه وکړو. که چېرې د هند پوځ حمله وکړي، موږ به يې پرېږدو چې د افغانستان له لارې راشي، چې لوی پوځونه ورک شوي دي(د امپراتوريو هديره).

معمول ستراتېژيک عمق دا دی چې کله پر افغانانو د بهرنيو له خوا حمله شوې ده، هغوی پاکستان ته راغلي دي. هغوی هلته پاتې شوي، کارونه يې موندلي او په ټولنه کې مدغم شوي دي. دا چاره سلګونه کاله کېږي چې روانه ده، تر دې چې زما خپل نيکونه هم (۱۵۰) کاله پخوا د يوې بلې موضوع له وجې کشمير ته کډه شوي وو او ځينې نور يې ان تر جنوبي هندوستانه هم تللي دي.

دا سمه نه ده چې د پاکستان افغاني پاليسي پر هند متمرکزه ده. د افغانستان اوضاع پېچلې ده، داسې چې زه اړ يم په هرو شپږو مياشتو کې په دې اړه خپله پوهه او ارزونې نوې کړم.

دولت: ولې ولسمشر اشرف غني ناڅاپي د پاکستان ضد شو؟

دوراني: هغه هر وخت ضد و. د هغه ستونزه دا ده چې وارد شوی او تحميل شوی ولسمشر دی او شاوخوا يې هغه ځوانان را ټول دي، چې په لوېديځ کې يې زده کړې کړې. دوی په افغانستان پورې اړه نه لري او هلته يې د پښو ځای او ملاتړي نشته. د امريکا له پوځي، مالي او سياسي ملاتړ پرته حکومت خپله پر ځان بسيا هم نه دی.

له بلې خوا طالبان دا (١٦)کاله د نړۍ د ځواکمن ائتلاف پر ضد ولاړ دي. دا يو مهم فکتور دی چې د افغانانو په خپلمنځي جوړ جاړي پورې اړه لري. له طالبانو سره خبرې کېدای شي لکه دوه ځله چې په دوحه او مري کې ترسره شوې.

دولت: لکه تاسې چې وويل اشرف غني په خپله خوښه د پوځ مشرتابه (GHQ) ته ورغی.

دوراني: هغه بې ګټې جادو و. ما فکر کولو چې اې خدايه! دغه سړي راحيل شريف غريب ته داسې يو حالت رامنځته کړ، چې د يوه عادي پوځي لپاره به يې ساتل ستونزمن وي. ځينې پاکستانيان ډېر احمق دي، دوی فکر کولو چې اشرف غني ډېر زړور دی، هغه د پوځ د مشرتابه دروازه ور ټک ټک کړه.

په ټوله کې، ټولو هغو چې له اشرف غني مخکې يې په افغانستان کې حکومت کړی، ان که هغه ياد کړو چې شورويانو دلته واکمن کړي وو، که داود، حفيظ الله امين يا تره کی و، ټولو ته به چې مسکو وويل چې پر پاکستان حلقه را ټينګه کړئ، دوی به ورته بې اعتنايي کوله. همدا وجه وه چې ځينو يې خپلې چوکۍ او ان سرونه هم وبايلل. اشرف غني دا ځانګړنه نه لري. هغه په امرتسر کې زموږ د خولې خوند خراب کړ.

اشرف غني د کرزي په پرتله د پاکستان لپاره ډېر ګواښمن دی. لږ تر لږه کرزي چې زه ورته درناوی لرم، په ځمکه د پښو ځای درلود او په دې پوهېدلو چې دا لوبې څنګه ولوبوي. سره له دې چې هغه دېارلس کاله په امريکايي پيسو او امنيت ولسمشر و، خو بيا يې هم دا زړورتيا درلوده چې امريکايانو ته خپله خبره وکړي. په وروستيو کې خو هغه حتی امريکا د داعش په جوړولو او ملاتړ تورنه کړه.

دولت: نو موږ دا داسې وګڼو چې اشرف غني يو امريکايي دی؟

دوراني: هو، دی.

**دوام لري...**

# ندين ګورډايمر

شفيق اميرزی



ندين ګورډايمر په ۱۹۲۳کال کې د ژوهانسبورګ ښار په مربوطاتو کې دې نړۍ ته راغلې ده. هغې له ۱۹۵۱ کال د خپلو داستانونو په چاپ پيل وکړ او له ۱۹۶۰کال راپدېخوا په جنوبي افريقا کې د آپارتايد ضد غورځنګ سره يو ځای شوه. نلسن منديلا د نړۍ وتلې څېره د هغو کسانو له ډلې و، چې په زندان کې يې د (برګر نجلۍ) په نامه د ګورډايمر يو ناول ولوست او همدا چې له زندان ازاد شو، نو نوموړې د هغو لومړنيو کسانو له ډلې وه چې منډيلا خپل حضور ته ور وبلله. دې ليکوالې په ټوله کې ۱۴ ناولونه ليکلي دي چې له دې ډلې ځينو يې نړيوالې جايزې هم ګټلې دي. د بېلګې په توګه، (محافظه کار) ناول يې په ۱۹۷۴ کال کې د بوکر جايزه ګټلې ده. همدا راز ډېرې ننداري، لنډې کيسې او ډرامې يې هم ليکلې دي.

نوموړې په ۱۹۹۱کال کې د نوبل جايزه وګټله. هغه مهال يې تر ټولو تازه ناول (يو ژوند مخ ته بوځه) نومېده. ګورډايمر په ژوهانسبورګ کې اوسېده. هغه په خپل ښار کې د ملګرو ملتونو د حسن نيت استازې وه او تر څنګ يې په دې ښار کې د من بوکر جايزې ګټونکې او استازې هم بلل کېده. ندين د خپل ادبي او فرهنګي ژوند پر مهال د ليکلو تر څنګ، ژوره مطالعه کوله او خپل ځينې ناولونه يې هم نقدول او اصلاحات به يې پکې راوستل. په همدې لړ کې د من بوکر ادبي جايزې د نړيوالو داورانو په ډله کې هم راغله او له همدې امله مجبوره وه چې لا ډېر لوستل وکړي، وړ کتابونه تحليل کړي، کتنه ورته وکړي او د دې جايزې لپاره يې وړاندې کړي. هغه په دې مهال له نړيوالو ليکوالانو سره بلده شوه، ځکه د دغه جايزې داوران يا کتونکي تر ډېره پاخه ليکوالان او داسې کسان وو چې مطالعه يې لرله او د ليکلو او لوستلو په برخه کې له پراخې تجربې برخمن وو.

ګورډايمر وايي، د نوموړې په باور انسان مطالعه کوي، خو ځينې وخت مهمو مسايلو ته نه متوجه کېږي، کلونه وروسته چې همغه کتاب را اخلي، نو ګوري چې ډېر نوي څه پکې شته دي. نوموړې وايي، له ډېرو داسې کتابونو سره مخ شوې ده، چې کلونه مخکې يې لوستي وو، خو دلته يې بيا لوستلو ډېر څه ته متوجه کړه. داسې څه يې ترې زده کړل چې هغه مهال يې نه و ورته پام شوی. هغه وايي، که نن يو کتاب ولولی، خو ژوند درسره ياري وکړه او شل کاله وروسته بيا همدا کتاب ولولی، نو ډېر نوي څه به ترې درک کړی.

ګورډايمر داسې وخت نړۍ ته راغله چې د تورپوستو پر وړاندې تبعيضي چلند روان و. دا د ۱۹۲۳ کال پسرلی و. په جنوبي افريقا او امريکا کې تبعيض او نانديريو ژوند تريخ کړی و. په همدې چاپېريال کې ګورډايمر هم را لويېده. همدا چې د ليک لوست کېده، نو په يو ډول نه يو ډول د اپارتايد له اړوندو اثارو سره مخ کېدله. هغه لا ځوانه وه چې د خپلې ټولنې په اړه مطالعې د يوه روښانه فکر خاونده کړه او ځانګړې واضح ليدلوری يې درلود. دې وضعيت ډېر دوام ونه کړ او ګورډايمر ليکوالۍ ته مخه کړه. د نژادپالنې ضد ليکنې او مقالې يې خپرولې. کله چې اپارتايد مات شو، نو په ټولنو کې داسې ګنګوسې شوې چې د نوموړې اثار به هم نور بازار ونه لري، خو داسې نه وه او تر ننه پورې يې اثار خپل لوستونکي او مينه‌وال لري. د ګورډايمر اثار ډېر مشهور شول. په ۱۹۷۴ کال کې د محافظه کار ناول په ليکلو سره يې د بوکر جايزه وګټله. هغې داسې هم نه کول چې ټوله ليکوالي يې دې د نژادپالنې ضد مفکوره باندې راڅرخېده، بلکې اصلي موخه يې د خپلې ټولنې د ستونزو رابرسېره کول وو. په ۱۹۹۴ کال کې چې کله په جنوبي افريقا کې د لومړي ځل لپاره ټاکنې تر سره شوې، نو هغې يې هم د اثارو مفکوره بدله کړه او شاوخوا اته کتابونه يې خپاره کړل. په دې کتابونو کې يې په دې لويه او جنجالونو ډکه وچه کې د ايډز، فقر، محروميتونو، وباګانو او نورو اړوندو ټولنيزو ناخوالو انځورونه وړاندې کول او د خلکو همدردي يې پاروله.

په معاصرو وختونو کې چې د ګورډايمر عمر تر اتيا کلونو هم لوړ و، هغې د اوسنۍ نړۍ ستونزو ته کتنه کوله. نوموړې د يوې انسان دوستې ليکوالې په توګه د جګړو مخالفت کاوه. په ويرجينيا کې پر يوه پوهنتون له بريد نيولې د عراق تر جګړې هر څه يې غندل. هغې د تاوتريخوالي مخالفت کاوه او همدا راز د وسلو د کاروبار او ازادۍ مخالفه وه. په خپلو ډېرو اثارو کې يې په ټولنو کې د وسلو او تاوتريخوالي رامنځ ته کېدل غندلي دي. هغه وايي، په ټولنه کې چې کله تاوتريخوالی رامنځ ته کېږي، په هر ډوله چې وي ستاسې ژوند اغېزمنوي. له همدې امله يې د هېوادونو جګړې غندلې او د وسلې کارونه يې د بشريت پر وړاندې ستر جنايت باله. نوموړې په افريقا په تېره په جنوبي افريقا کې هم تاوتريخوالي او نانديرۍ غندل او خلک يې په خپلو کيسو او ناولونو کې سوله ييز او له درناوي ډک ژوند ته رابللي دي. نوموړې د همدې مسايلو په دوام په ۱۹۹۸ کال کې د (وسلو کور) په نامه يو ناول هم خپور کړ. په دې ناول کې يو ځوانکی له وسلو سره د شوق او مينې په وجه په جنايتونو او خونړيو پېښو کې راګير کېږي.

نوموړې يو وخت په ټولنو کې د جنايتونو په اړه د (يو ژوند مخ ته بوځه) په نامه ناول وليکلو. په دې کې په ټولنو کې شته ناخوالې او جنايي جرمونه انځور شوي دي. نقادان وايي چې د دې ناول کيسه پخپله پر ګورډايمر وشوه. کلونه وروسته يو منی يوه ډله غله د نوموړې کور ته ورغلل او ټول شته او نغدې پيسې يې ترې يوړې. پر هغې يې بريد وکړ، خو زيانمنه نه شوه. بيا يې په خپله مرکه کې وويل، دې غلو تر دې ښه کار پيدا نه کړ چې د يوې زړې مېرمنې په شتمنۍ کې يې سترګې ګنډلې وې. له ټولو سره سره ګورډايمر ځان په خپلو اثارو او ليکنو کې بريالۍ بولي. نوموړې د اپارتايد تر مبارزې وروسته وويل چې په جنوبي افريقا کې د تبعيض له ننګه ډک دود له منځه يوړل شو. جشنونه جوړل شول، د دوی تر تمې لوړې برياوې رامنځ ته شوې، خلک يو بل ته مخامخ ودرېدل او خبرې يې وکړې او اوس د دې وخت دی چې ستونزې په ګډه حل کړي، هېڅ جريان بې نيمګړتياوو نه دی؛ خو تر ټولو ښه دا ده چې ټول سره يو ځای شي او تر ازادۍ وروسته رامنځ ته شوی سرخوږی درمان کړي. ګورډايمر سره له دې چې ښه ليکواله وه، خو په خپل ژوند کې يې تل د ژوهانسبورګ د يوه مشهور ليکوال مونګان سروت ستاينه کوله. د نوموړې په وينا، هغه يو پياوړی ليکوال او شاعر و، چې د جنوبي افريقا د کنګرې غړی هم و او څو ځله نږدې وه چې د خپلو سياسي افکارو او فعاليتونو له امله ووژل شي. د ګورډايمر د خوښې بل ليکوال ګونترګراس دی. د دې تکړه ليکوال په اړه مو په تېره خپرونو کې خبرې کړې وې، هغه هم د نوبل جايزې ګټونکی دی، خو د نوبل جايزه يې تر ګورډايمر کلونه وروسته ګټلې ده. نوموړې د دې ليکوال د اثارو ستاينه کوله او ان هغه وخت کې په ګونترګراس پسې نوي اسناد راوسپړل شول او هغه د نازيانو د پوځ پخوانی غړی وبلل شو، نوموړې خپل دريځ بدل نه کړ او ټينګار يې کاوه چې هغه يو پياوړی ليکوال دی او تل يې اثارو ته درناوی لري. د ګورډايمر په دوستان او ملګرو کې يوازې ګونترګراس نه دی چې د نوبل جايزه يې ګټلې ده.

د نوموړې کورنۍ اصل کې له يهودي کډوالو وه، خو د ژوند تر پايه يې د اپارتايد پر ضد مبارزه کوله. د ژوند څو لسيزې يې د بشريت او انسان لپاره د ژوند د جوړولو په برخه کې په مبارزه تېرې کړې. نوموړې له خپل خاوند سره يو ځای ډېر سياسي فعاليتونه لرل، خو تر ډېره دغه سياسي فعاليتونه د تبعيض ضد فکر باندې راټول وو. نوموړې په يوه مرکه کې ويلي، نه غواړي چې د نورو ليکوالانو په څېر د خپل ژوند د سياسي اړخ په اړه ليکل وکړي او يا يې له ټولنې سره شريک کړي. د دې په خبره، له ټولنې سره يې اړيکه د ليکوالۍ له لارې ده او ټولنه يې د همدې اثارو او ليکلو له لارې پېژندلی شي.

يوازې دا مسايل نه وو چې د ګورډايمر پر ژوند يې اغېز درلود، د کورنۍ چاپېريال يې هم هغه څه وو چې د هغې د ژوند مسير يې ټاکلی و. پلار يې ساعت جوړوونکی و. په اصل کې د لندن و، خو له ليتوانيا جنوبي افريقا ته راغلی و. د نابرابرۍ او تبعيض ضد مفکوره يې همدلته له خپلو والدينو اخيستې وه. دوی هم په ټولنو کې له بې عدالتيو ځورېدل. څېړونکي په دې باور دي چې له ګورډايمر سره يې پلار تر ډېره خپلې تجربې شريکې کړې. پلار يې يو وخت په تزاري روسيه کې کډوال و او هلته يې د خپل ژوند او هڅو خوږې ترخې له خپلې لور سره شريکولې. مور يې هم په خيريه کارونو بوخته وه. په خپله سيمه کې يې د عدالت او بشري خدمت په موخه د تورپوستو ماشومانو ته يو وړکتون جوړ کړی و. د دولت له لوري د ځپل کېدو تجربه يې هم لرله. يو وخت د حکومت کسان د دوی کور ته ورغلل او دوی يې سخت وځورول او له دې امله چې ولې د نژادي تبعيض پر وړاندې ولاړ دي او ولې د دوی کور ته د ځينو خلکو ليکونه ځي راځي.

مخکې مو هم وويل چې ګورډايمر ډېره ژر ليکوالي پيل کړه. همدا چې د هېواد د سياسي وضعيت په اړه يې يو روښانه فکر له ځان سره پيدا کړ، د همدې فکر د خورولو لپاره يې ليکوالي پيل کړه. لومړنۍ کيسه يې په پنځلس کلنۍ کې خپره کړه. دا ۱۹۳۷ کال و. د همدې ليکلو په دوام يې په ۱۹۴۹ کال کې د خپلو کيسو لومړنۍ ټولګه چاپ کړه. کيسې او ليکنې يې له هرکلي سره مخ کېدې چې له همدې امله له سياسي فشارونو سره هم مخ کېدله. هغه وروسته وروسته په سياسي لحاظ د جنوبي افريقا د کنګرې له مهمو غړو شوه. بيا يې په همدې موده کې د نيلسن منډيلا په ګډون د ډېرو نورو سياسي بنديانو او خپلو ملګرو د خوشې کولو لپاره مبارزه وکړه. هغه په خپل دې کار کې بريالۍ شوه او ټول هغه کسان يې له بنده خوشې کړل، چې د نژادپالنې پر ضد يې غبرونه اوچتول او حکومت بند ته اچولي وو.

د نوموړې وروستی اثر (هېڅ وخت لکه نن) نومېږي. دا يې په ۲۰۱۲ کال کې چاپ کړی دی. په دې کې يې د اپارتايد تر ماتې وروسته هم د هغو کسانو وضعيت او ناخوالې انځور کړې دي، چې لا يې ژوند مثبت بدلون نه دی کړی او لا هم له ناخوالو ځورېږي. د خلکو بېوزلي يې انځور کړې ده او د دوی ستونزې يې بيان کړې دي. د نوبل بنسټ هغه مهال په خپله اعلاميه کې ويلي وو چې ندين ګورډايمر يوه پياوړې ليکواله ده، چې د ښکلو حماسه ډوله اثارو په پنځولو سره يې په بشري فرهنګ کې مهم کارونه کړي دي او بشريت ته يې د خير رسونې هڅه کړې ده. بالاخره د نړۍ دغه تکړه ليکواله او د نوبل ګټونکې د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۱۳مه د نوي کلونو په عمر مړه شوه.

## اقتصاد

# غیر متمرکز نظام د افغانانو درد نه شي درمان کولای

نورمدین بلخیل

افغانستان په قومي او ژبني لحاظ یو ډېر ملیته او ډېرو ژبو لرونکی هیواد دی، چې تقریباً تر ۷۰ قومونو او له ۳۰ زیاتې ژبې پکې شتون لري، چې ځینې وخت همدغه توپیرونه هم د لویو دسیسو د تطبیق باعث شوي دي. فرضاً کله چې د امکان په صورت کې د یو قوم یا ژبې واله شخص قدرت ته رسیږي، نو په مقابل کې نور غږ پورته کوي چې دا خو د پلاني قوم غړی دی او یوازې د خپل قوم لپاره کار کوي، بیا په مخامخ طرف کې نور قومونه او ژبو واله له هماغه شخص سره حساسیت ښیي او د نورو اختلافاتو او مشکلاتو د منځته راتګ سبب کیږي.

په افغانستان کې له ۱۳۴۳ کال راهیسې چې کله خلق دیموکراتیک ګوند تاسیس او په دغه ګوند کې ببرک کارمل په قومي او ژبني لحاظ د دویم کس په توګه ومنل شو، ورسره د داسې غیر متمرکز نظام او یا هم په بل ډول د قومي او ژبني تعصب په بنسټ د افغانستان د وېش مفکوره را پیدا شوه، چې دا ناروغي په ۱۳۷۱ کال کې کله چې د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت رنګ شو او بیا دغه کرۍ د مجاهدینو له ځینو ګروپونو سره یو ځای شوه او دغه رنځ ځینو تش په نوم مجاهدینو ګروپونو ته هم نقل شو، چې په نتیجه کې د یو ملي او متمرکز سیاسي او اسلامي نظام مخه ونیول شوه او افغانستان تر ننه د یوې بلې ناپایه خونړۍ جګړې په لمن کې پرېوت، په اوس وخت د همدغو ناروغانو دغه ناروغ دریځ دی چې د غیرمتمرکز سیاسي نظام چې په اصل کې د افغانستان د وېش او بربادۍ یو دسیسه ده، ناري اوربدل کیږي؛ خو دا ارمان به یې هیڅکله پوره نه شي. په اوسمهال کې په افغانستان کې هیڅ شریف افغان هغه که د هر قوم او ژبې وي پر یوه غیر متمرکز نظام باور نه لري، ځکه دوی یوازې د افغانستان په سیاسي اتحاد کې د افغانانو نیکمرغي ویني، دغو کړیو په ۲۰۰۱ کال کې چې کله په افغانستان کې د یو نوي او عصري نظام تیره کیښودل شوه، د بُن په کنفرانس کې او بیا له هغه وروسته په جوړېدونکو لویو جرګو کې دا ډول غوښتنې په مستقیم او غیر مستقیم ډول کولې؛ خو دا چې د امریکا او نړیوالو په بې درېغه ډالرو او اشرفي جوش نوش کې غرق وو، نو ځکه د عمل په ډګر کې پر ملت باندې دې دا ډول غوښتنو په منلو بریالي نه شول او اوس هم په دې هیله طرحې او پلانونه جوړوي چې ګوندې په راتلونکي کې بیا هم دوی خپل دا شوم پلانونه عملي کړای شي، دوی په واقعیت کې هغه خلک دي چې نه جمهوریت پېژني او نه هم دیموکراسي، نه وطنپال دي او نه ملتپال، په دا ځلوېښتو کالونو کې یې جمهوریت او دیموکراسي په شرمونو وشرمول او نور جمهوریت او دیموکراسي له دوی فنا غواړي.

دا نن سبا کې چې د سولې خبرې تودې شوې، بیا هم دوی په خپلو پلانونو او طرحو کې د داسې یو غیر متمرکز نظام د اړانې خبرې کوي، کوم چې له ورانډې د افغانانو له جدي غبرګون سره مخ شوي دي، په افغان دولت کې د ننه او بهر ډېرو سیاسي ګوندونو او کسانو او همدارنګه طالبانو د دې غیر متمرکز نظام د انفاذ تردید کړی او ویلي یې دي چې هیڅکله به د تجزیو او وېش دسیسې په افغانستان کې ونه منل شي، د غیر متمرکز نظام او یا هم داسې نظام چې هم په کې ولسمشر او هم لومړی وزیر دواړه د حکومت په راس کې وي او افغانان دې په ځانګړو بیلوبیلو حوزو ووېشي، په واقعیت کې د دوه سري حکومت او د اختلافاتو یو ناروا اړیکه ده چې حتماً به هېواد له بحران او مشکلاتو سره مخامخ کړي.

په افغانستان کې د غیر متمرکز فیدرالي نظام د راتلو وخت هغه زمان حقیقت موندلی شي، چې کله افغاني ټولنه په فوق العاده صورت باندې په ذهني او شعوري لحاظ پرمختګ وکړي او په دې مملکت کې د سمت، قوم او ژبې په لحاظ یو بل ونه انګیري؛ بلکې ټول ځانونه افغان او یو وجود وګڼي، ښوونه او روزنه عامه شي او د خلکو زړونه له ضد، درد او کینې څخه خالي شي.

په پای کې ویلی شو چې افغانان غیر متمرکز نظام نه مني، په افغانستان کې باید متمرکز ریاستي نظام چې فوق العاده صلاحیتونه او واکونه ولري، د ډېر وخت لپاره پاتې شي، څو افغانان خانونه یو بل لکه یو وجود حس کړي او دغه ورېښه قومونه چې وروستیو ناوړه حالاتو یو له بله یو څه لرې کړي، بېرته سره یو موټی کړي.

## رحماني: د ترکیې ناسته د جګړې د پای ته رسېدو غوره فرصت دی، طالبان دې پکې ګډون وکړي



د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني، له طالبانو څخه وغوښتل چې د افغان سولې په تړاو د ترکیې په غونډه کې ګډون وکړي. رحماني د ولسي جرګې په پرونۍ عمومي غونډه کې وویل چې طالبان باید له دغه تاریخي فرصت څخه په استفادې خپلې غوښتنې په دغه غونډه کې مطرح کړي.

نوموړي زیاته کړه: «موږ له طالبانو غواړو چې د استانبول په غونډه کې ګډون وکړي او خپلې غوښتنې مطرح کړي او له دغه غونډې څخه د افغانستان په ګټه کار واخلي.»


هغه د سیمې له هېوادونو چې پر طالبانو نفوذ لري او ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چې طالبان په دغه غونډه کې ګډون ته وهڅوي. د ولسي جرګې مشر همدارنګه وویل چې د افغان سولې په اړه د ترکیې جوړېدونکې غونډې په هېواد کې د جګړې پای ته رسېدو په اړه هیلې زیاتې کړې دي.

رحماني د سیمه‌ییزې او نړیوالې اجماع رامنځته کېدو او د غونډې په اړه د حکومت په استازیتوب د ملي مصالحې شورا چمتووالي ته په اشاري وویل: «د ترکیې ناستې د جګړې د پای ته رسېدو او په سوله‌ییز ډول د افغانستان د کړکېچ د هوارۍ لپاره هیلې زیاتې کړې دي.»

د نوموړي په خبره، د افغانستان ولسي جرګه او خلک د سولې ټینګېدو لپاره د ترکیې ناسته یوه تاریخي فرصت بولي. هغه زیاته کړه چې جمهوري نظام اساسي قانون او مدني ازادۍ د افغانستان له مهمو ارزښتونو څخه دي، چې په وینا یې باید وساتل شي.

د یادونې ده چې ټاکل شوې د افغان سولې په اړه د ترکیې ناسته د روانې اپرېل میاشتې پر ۲۴مه د لسو ورځو لپاره پیل شي. طالبانو تر دې مخکې ویلي، تر هغې چې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه نه وي وتلي، دوی به د افغانستان په اړه په هیڅ غونډې کې ګډون ونه کړي. خو له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو په اړه د امریکا د ولسمشر جو بایډن تر نوي اعلان وروسته معلومه نه ده چې طالبان به په یاده غونډه کې ګډون وکړي او که نه.

## سپینه ماڼۍ: د ځواکونو له ایستلو وروسته د افغانستان د راتلونکي ضمانت نه شو کولی



د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار جک سولیوان ویلي، د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته هېڅوک د افغانستان د راتلونکي ضمانت نه شي کولی. نوموړی دغه راز ټینګار کوي چې د امریکا متحده ایالتونه به هغو ګواښونو ته پام کوي چې سرچینه یې په افغانستان کې وي.

د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار د امریکا له فاکس نیوز ټلویزیوني شبکې سره په مرکې کې د یوې پوښتنې په ځواب کې، که په افغانستان کې هماغه شان حالت راشي لکه په ۲۰۱۱ز کال کې د عراق نه د امریکایي عسکرو تر وتلو وروسته چې راغی، ویلي: «جمهور رییس جو بایډن افغانستان ته د امریکایي عسکرو بیا لېږلو هېڅ نیت نه لري.»

سلیوان دغه راز زیاته کړې: «زه د دې ضمانت نه شم ورکولی چې په افغانستان کې دننه به څه وشي. دا هېڅوک نه شي کولی.»

سلیوان همدارنګه زیاته کړې چې د امریکا متحده ایالتونو د افغانستان حکومت او ولس ته د منابعو په برابرولو، د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وړتیاوو لوړولو او تجهیز په برخه کې تر خپلې وسې کار کړی او زیاته کړې یې ده: «اوس د دې وخت رارسېدلی چې امریکایي عسکر بېرته هېواد ته راستانه شي او د افغانستان ولس د خپل هېواد دفاع وکړي.»

د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت د سلاکار له دغو څرګندونو وړاندې ولسمشر غني د امریکا له یوه بل ټلویزیون سي ان ان سره په مرکې کې ویلي وو چې د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونه د خپل هېواد د دفاع توان لري او دوه کاله کېږي او هیچا ته به اجازه ورنه کړي چې په هېواد کې وضعیت تر دې ناوړه حالت ته بوځي.

د یادونې چې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو د وتلو له اعلان سره هممهاله په دغه هېواد کې د جګړو د ډېرېدو او د ترهګرو لاس ته د دغه هېواد د لوېدو په تړاو اندېښنې ډېرې شوې دي.

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۶۵ |
| € | ۹۲,۲ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,٤ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۴۰۰ د وری ۳۱مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۰مه | ۷۱۰مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | | هرات | | کندهار | | بلخ | | ننگرهار | | خوست | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ / ۷ | | ۲۸ / ۱۲ | | ۳۱ / ۱٤ | | ۲۹ / ۱۷ | | ۲۹ / ۱۵ | | ۲۳ / ۱۳ | |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۴۳ | لمر ختل ۰۵:۱۷ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیگر ۰۴:۳۶ | ماښام ۰۶:۳٤ | ماخوستن ۰۷:۵۴

سه شنبه ۱۴۰۰/۰۱/۳۱
د سهار اذان ۰۳:٤۳ د ماښام اذان ۰٦:۳۴
رمضان کریم

## نړۍ




## راپوروڼه: د پاکستاني پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په تازه نښتو کې ۲۳ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې



پاکستاني چارواکي وايي چې د تحریک لبیک ډلې د پلویانو او پولیسو ترمنځ په تازه نښتو کې لږترلږه درې تنه وژل شوي او له شلو ډېر ټپیان شوي دي.

د پاکستان د تحریک لبیک ډلې پلویان چې په دغه هېواد کې یې پر فعالیت بندیز لگول شوی، له څو ورځو راهیسې لاریونونه کوي او د پاکستان له حکومته غواړي چې د هغو کاریکاتورونو په خاطر دې چې تېر کال په فرانسه کې خپاره شوي او هغه حضرت محمد ته سپکاوی بلل شوی، د فرانسې سفیر دې له دغه هېواده وباسي.

د لاهور ښار د پولیسو ویاند رانا عارف ویلي، چې د تحریک لبیک پلویانو په دغه ښار کې د پولیسو پر ماموریت برید کړی، چې په دې نښتو کې درې تنه وژل شوي او د ۱۱ پولیسو په گډون ۲۰ تنه ټپیان شوي دي.

د یادونې ده چې دې ډلې نن (د اپریل ۲۰مه) حکومت ته وروستی مهلت ټاکلی چې د فرانسې سفیر له دغه هېواده وباسي. دوی دغه راز خبرداری ورکړی، که حکومت دغه کار ونه کړي، لاریونونه به نور هم پراخ کړي.

د یادونې ده چې د اپرېل په ۱۵مه په اسلاماباد کې د فرانسې سفارت پر وړاندې لاریونونو په لړ کې د دوو پولیسو په گډون لږترلږه پنځه تنه وژل شوي وو.

## امریکا: که ناوالني په زندان کې ومري، روسیې ته به بدې پایلې ولري

امریکا خبرداری ورکړی، که د کرېملین سرسخت منتقد الکسي ناوالنی په زندان کې ومري، روسیې ته به ناوړه پایلې ولري. ناوالني چې په دې وروستیو کې یې د خوړو نهخوړلو اعتصاب کړی، د ډاکترانو یوې ډلې یې روغتیایي وضعیت خطرناک بللی دی.

په ورته مهال، له زندانه د ناوالني د خوشې کېدو لپاره پر کرېملین د مخ پر زیاتېدونکو فشارونو په لړ کې د هغه پلویانو پراخ لاریونونه رابللي دي.

روسي چارواکو تر اوسه له دې ډېره کړې چې یوه خپلواک ډاکتر ته اجازه ورکړي چې ۴۴ کلن ناوالني له نږدې معاینه کړي.

بلخوا د امریکا د ملي امنیت سلاکار جک سولیوان ویلي، د روسیې حکومت ته‌یې ویلي، هر هغه څه چې له ناوالني سره پېښېږي، د نړیوالې ټولنې له‌خوا به یې مسوول دوی وي؛ ځکه نوموړی د دوی په زندان کې دی.


هغه زیاته کړې، دا چې دوی به څه ډول اقدام کوي اوس په ښکاره په دې اړه څه نه‌شي ویلی، خو دا یې د روسیې حکومت ته واضح کړې چې که په ناوالني څه وشي، ناوړه پایلې به ولري. د یادونې ده چې د روسیې د حکومت سرسخت منتقد الکسي ناوالني د جنوري له میاشتې راهیسې، کله چې له جرمني بېرته روسیې ته ستون شوی، نیول شوی او مسکو ته نږدې په یوه زندان کې ساتل کېږي.

## یافته‌ها: سالانه بیش از ۱۲٦ میلیون افغانی از معدن زغال سنگ چنارک بغلان، به جیب های شخصی می رود

یافته های پژواک نشان می دهد که افراد زورمند در ولسوالی نهرین ولایت بغلان، کار یک شرکت قراردادی استخراج زغال سنگ را به تعلیق درآورده اند و سالانه ۱۲٦ میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی به جای بودجهٔ دولت، به جیب های شخصی می رود. این معدن، در منطقه چنارک ولسوالی نهرین ولایت بغلان موقعیت داشته و از دو سال گذشته به اینسو، استخراج غیرقانونی در آن جریان دارد. طبق تحقیقات پژواک، روزانه حدود ۱۵ موتر زغال سنگ، به طور غیرقانونی و غیرفنی از این معدن استخراج می شود، که پول آن را گروه های مسلح غیرمسئول و افراد زورمند محلی به دست می آورند. باشندگان محل می گویند که افراد مسلح غیرمسئول، از هر موتر ۱۰ هزار افغانی به نام مالیه می گیرند. قرارداد استخراج این معدن در سال ۱۳۹۱، به شرکتی به نام هاشمی گروپ داده شد که کمپنی یادشده، با هزینه چند میلیون دالر، معدن را بطور فنی برای استخراج آماده کرد؛ اما طی دو سال گذشته افراد زورمند این منطقه، جلو استخراج معدن یادشده را گرفته و کندنکاری های غیرقانونی و خودسرانه را در آن آغاز کرده اند. محب الله کارمند این معدن، می گوید که از دو سال گذشته به اینطرف، استخراج غیرقانونی در این معدن جریان دارد. وی می افزاید: «در گذشته نیز استخراج غیرقانونی انجام می شد؛ اما دو سال است که زورمندان، شرکت اصلی را به کار نمی گذارند و کندنکاری های خودسرانه را انجام می دهند.» حاجی محمد عزیزی ولسوال نهرین، گفت از زمانی که شرکت قراردادی، کار خود را در معدن چنارک توقف داده، افراد زورمند شروع به استخراج و قاچاق زغال سنگ به مناطق دیگر کرده اند.

## ژوند

## په روژه کې تر ماښام وروسته ورزش وکړئ



که غواړئ چې د روژې په مبارکه میاشت کې ورزش وکړئ، خو له دې خبرې اندېښنه لرئ چې څه ډول به یې تر سره کوئ، په دې اړه په دوبۍ کې موجود لارښود یا کوچ ډیوندر بینس ځینې لارښوونې کړې دي.

ډیوندر بینس وایي چې له هر څه وړاندې لومړی اړینه ده چې معلومه کړو چې ورزش باید په کوم وخت کې وکړو او وخت هم باید داسې وټاکو چې خېټه مو ډېره ډکه نه وي.

ډیوندر زیاتوي چې د ورزش تر ټولو ښه وخت له ماښامي وروسته وخت دی، خو په دې شرط چې خېټه مو ډېره ډکه نه وي، یانې ماښامی په لږ خوراک سره وکړئ، بیا ورزش وکړئ او له هغې وروسته ډوډۍ وخورئ. که چېرته سهار وختي پورته کېدلی شئ چې دویم غوره وخت یې له پیشلمي څخه دمخه وخت دی او که چېرته تاسې په تشه گېډه د ورزش کولو عادت لرئ، نو له ماښامي یې دمخه هم کولی شئ؛ خو دا وخت مو بدن د اوبو له کمښت سره مخ کېږي.

## شیاومي هم قاتېدونکی موبایل بازار ته وړاندې کړ



شیاومي کمپنۍ خپل لومړنی قاتېدونکې مخ‌پاڼه لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه موبایل (Xiaomi Mi Mix Fold) نومول شوی دی. دا تر دې دمه د شیاومي کمپنۍ تر ټولو پرمختللی او همدا راز گران بیه ځیرک موبایل دی. د شیاومي کمپنۍ دغه ځیرک موبایل دوې مخ‌پاڼې لري، چې ۸,۰۱ انچه اولېډ ډوله او ۱۴۴۰ پکسله ریزلوشن لرونکې اصلي مخ‌پاڼه او ٦,۵۲ انچه امولېډ ډوله ۲۵۲۰*۸۴۰ پکسله ریزلوشن لرونکې بهرنۍ مخ‌پاڼه یکې شامله ده. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراگن۸۸۸ ډوله پیاوړی پروسېسر ورکړل شوی او ۱۲ گېگابایټ رم لري. دغه ځیرک موبایل به ۲۵٦ گېگابایټ او ۵۱۲ گېگابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې ولري. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۱۰۸ مېگاپکسله اصلي، ۱۳ مېگاپکسله التراواید اېنگل او ۸ مېگاپکسله ټېلې فوټو کامرې یکې ځای پرځای شوې دي. د ۱۲ گېگابایټ رم او ۲۵٦ گېگابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۵۲۰ امریکایي ډالره او د ۱۲ گېگابایټ رم او ۵۱۲ گېگابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه بیا ۱٦۷۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.



د میرمنو لپاره ځانگړی جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانگړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماستر ډېټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ ارتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.
www.azizibank.af 1515